قانون مونږ خوندي ساتي
راځئ چې تاسو خوندي وساتو

دوهم چاپ
2026

# د سکاټلینډ د قانون لارښود

د نیو کالج لانارکشایر د HND حقوقي خدماتو زده کونکو، د Fearless (Crimestoppers) [بې ډاره (د جرایمو منع کونکي)]، Scottish Refugee Council [د سکاټلینډ د کډوالو شورا]، سکاټلینډي حکومت او پولیسو **د همکارئ پروژه**.

**اعترافات**

د دې کتابچې خپرول د لاندې کسانو له ونډې او مرستې پرته ممکن نه وو:
نيو کالج لانارکشاير
سکاټلينډي حکومت
د سکاټلينډ د پوليسو خدمات
Scottish Refugee Council [د سکاټلينډ د کډوالو شورا]
Fearless (Crimestoppers) [بې ډاره (د جرايمو منع کونکي)]

**ځانګړې مننه له:**
محترم لارډ مل هولنيډ سي. بي. اي.، کې. سي.، د قانون د کالج سناتور.

د نيو کالج لانارکشاير د HND حقوقي خدماتو زده کونکي:

- سمانتا مک کيګ
- تمارا سانچيز فرناندېز
- ميکسيملين مک کارميک

**مونږ تاسو ته زمونږ په هیواد کې ښه راغلاست وایو او په سکاټلینډ کې ستاسو د نوي ژوند لپاره نیکې هیلې لرو.**

**سریزه/تعارف**

"کله چې زه د قانون افسر وم، ما د نیو کالج لانارکشایر د حقوقي زده کونکو سره کار کاوه. هغو پروژو څخه یو چې مونږ پرې کار کاوه یوه کتابچه وه چې د سکاټلینډ قانون یې په اساسي اصطلاحاتو کې تشریح کولو ترڅو دا د پناه غوښتونکو او کډوالو د ګټې لپاره په ډیرو ژبو کې وژباړل شي. دا نوښت د سکاټلینډ د کډوالو شورا، پولیسو، د شاهی دفتر او د مالي خدماتو څارنوال او د سکاټلینډ حکومت لخوا ملاتړ شوی و. دا یو لوړ اهمیت لرونکی نوښت و، کوم چې د ګلاسګو په هامپډن پارک کې په یو کنفرانس کې د لومړۍ وزیر په ګډون منعکس شو کله چې هغې په خپله وینا کې دې ته اشاره وکړه.

زه پوهیږم چې هغه زده کونکي چې لومړۍ نسخه یې تولید کړې وه هغو د یو معیاري کتابچې تولیدولو لپاره ډیر سخت کار کړی و، د لوستلو او پوهیدو لپاره اسانه او واقعاً په قانون کې سم. دا پخپله د کډوالو لخوا ډیره وستایل او وکارول شوه. د دوی ښوونکي ایلینور او سیاران د وې کتابچې چمتو کولو کې د قانون زده کونکو سره د زړه نه کار وکړو. دواړه اوس مړه دي او دوی ډیر یادول کیږي.

البته قانون مخ په وړاندې ځي او په دوامداره توګه تازه کیږي او اضافه پکې کیږي، له همدې امله د کتابچې دوهمه نسخه ډیره اړینه ده. د قانون زده کونکو لخوا تولید شوی وروستی کتابچه قانون تازه کوي او په لومړۍ نسخه کې شامل موضوعاتو ته پراختیا ورکوي. زه د دوی د دې کار لپاره ویاړم چې د محرومو خلکو سره مرسته کوي، هغه خلک چې په خپل ژوند کې مرستې ته اړتیا لري خصوصاً په داسې وخت کې کله چې دوی ورته ډیره اړتیا لري.

دا کتابچه د هغه مخکښ کار لپاره درناوی ده چې ایلینور او سیاران دواړو د لومړۍ کتابچې په تولید کې ترسره کړې و. زه د دې د کارولو تائید او سپارښتنه یې کوم.

**محترم لارډ مل هولنیډ سي. بي. اي.، کې. سي.، د قانون د کالج سناتور.**

# منځپانګې


کورنۍ/فامیل ........ 7
واده او مدني انډیوالیاني ........ 7
طلاق........ 7
د والدینو مسؤلیتونه........ 7
کورني تاوتریخوالی ........ 9
تعقیبول........ 9
امیندواري او حمل سقط یا لرې کول........ 10
د ناموس په اساس ناوړه ګټه اخیستنه ........ 11
د ښځو د تناسلي برخې پرې کول (FGM)........ 11
استوګنه........ 12
کرایه داري........ 12
شړل/ایستل ........ 12
د سیمه ییزې اداري ملاتړ ........ 13
رواني روغتیا ........ 15
زیږون، مړینه، واده ........ 15
په کور کې قانون ........ 16
الکول/شراب ........ 16
سګرټ څکول او ویپ [ الیکترانکي سګرټ] څکول........ 16
د تلویزیون جواز........ 16
د پیسو پور اخیستل........ 18
د سړک قانون........ 19
د ټولني پر ضد چلند........ 19
عامه نظم - سوله ساتل........ 19
کثافات غورځول - د سړکونو پاک ساتل........ 19
عامه بې حیایي........ 19
ودرول او تالاشي کول ........ 19
د پیاده لارو کارول ........ 20
د موټر چلولو قوانین........ 21
څوک موټر چلولی شي؟........ 21
ستاسو د موټر چلولو جواز........ 21

د موټر د اسنادو کار ........................................................................ 22
په سړک کې د خوندیتوب قواعد ........................................................................ 23
د شرابو څښل - د موټر چلولو قانون ........................................................................ 24
په سکاټلینډ کې د سړک ترافیکي جرمونه ........................................................................ 26
برقي بایسکلونه او برقي سکوټرونه ........................................................................ 27
د کار په ځای کې قانون ........................................................................ 29
ستاسو حقوق ........................................................................ 29
ګوښه کول ........................................................................ 29
روغتیا او خوندیتوب ........................................................................ 30
مساوات او تبعیضونه ........................................................................ 30
د کار قراردادونه/تړونونه ........................................................................ 30
د جرم متاثرین ........................................................................ 31
د متاثره وګړي په توګه ستاسو حقوق ........................................................................ 31
آتشي وسله ........................................................................ 33
په سکاټلینډ کې د جرمي مسؤلیت عمر ........................................................................ 34
جنسي جرمونه ........................................................................ 35
جبري جنسي تېری ........................................................................ 35
جنسي تېری ........................................................................ 35
جنسي جبر ........................................................................ 35
د ماشومانو پر خلاف جرمونه ........................................................................ 35
د انځور پر بنسټ جنسي ناوړه ګټه اخیستنه ........................................................................ 35
د ویوریزم [نه غوښتل شوې پټ کتل] او غیر اخلاقي اړیکې ........................................................................ 35
جنسي ځورونه ........................................................................ 36
د کرکې/نفرت جرم ........................................................................ 40
مخدره مواد ........................................................................ 42
د پیسو کاچاق ........................................................................ 42
سایبري جرمونه ........................................................................ 43
د ځارویو اړوند قوانین ........................................................................ 44
د قانون چارواکي ........................................................................ 46
د پولیسو افسر ........................................................................ 46

د کډوالۍ افسر................................................................................................................. 47

**اوس مرستې ته اړتیا لرئ؟ ............................................................................................................. 48**

## کورنۍ/فامیل

واده او مدني انډیوالیانې

هر څوک چې د 16 کلونو څخه پورته عمر ولري واده کولی شي یا مدني انډیوالي اختیارولی شي. پدې کې مخالف جنس او همجنسي جوړې شاملې دي.

په یو وخت کې له یو څخه ډیرو کسانو سره واده کول غیرقانوني دي.

د جبري ودونو تنظیمول غیرقانوني دي؛ په سکاټلینډ کې خلک په خپله خوښه واده کوي د هغه چا سره چې دوی یې غوره کوي، او ټول ودونه باید ثبت شي، چې مذهبي ودونه هم پکې شامل دي.

جبري ودونه باید د فامیل لخواه ترتیب شوي واده سره مغشوش نشي. د فامیل لخواه ترتیب شوي واده کې، پداسې حال کې چې کورنۍ د واده ملګري په غوره کولو کې اصلي دنده لري، واده د دواړو خواوو په رضایت سره ترسره کیږي.

په جبري ودونو کې، واده کونکي یو یا دواړه واده ته رضایت نه لري، یا رضایت د فشار لاندې اخیستل کیږي. عمر هم یو فکتور کیدی شي، او په ځینې جبري ودونو کې ماشومان او ځوانانو شریک کیدې شي.

طلاق

که تاسو نور نه غواړئ چې واده جاري وساتئ، تاسو په ځینو شرایطو کې طلاق ترلاسه کولی شئ. پدې شرایطو کې شامل دي زنا کاري، غیر معقول چلند او یا که تاسو د یوې ټاکلې مودې لپاره جلا ژوند وکړئ.

که تاسو ماشومان لرئ، نو د طلاق دمخه باید د دواړو والدینو لپاره د اړیکو ترتیباتو باندې موافقه وشي. مهرباني وکړئ پدې مسلو کې د مرستې لپاره قانوني مشوره وغواړئ.

د والدینو مسؤلیتونه

د سکاټلینډ د قانون له مخې، د ماشومانو حقوق خوندي دي. دا هغه ټول شیان دي چې ماشومان روغ، خوشحاله او خوندي ساتي او تر 18 کلنۍ پورې ټولو ماشومانو پورې اړه لري. د ماشومانو حقوق د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقونو په کنوانسیون (UNCRC) کې بیان شوي دي. د مور او پلار په توګه، تاسو باید د دوی حقوق ته درناوی وکړئ او د خپل ماشوم روغتیا، خوندیتوب او تعلیم مسؤلیت په غاړه ولرئ. یو ماشوم باید د هغه وخت لپاره یوازې یا بې څارنې نه پریښودل شي چې د غیر ضروري رنځ یا ټپي کیدو لامل احتمال ولري، او دا چې ټول ماشومان په خپله مخه وده کوي به د دوی د ودې د وړتیا پورې اړه ولري چې د هر احتمالي بیړنې حالت سره معامله وکړي چې پیښ کیدې شي. ډیر کوچني ماشومان باید په هیڅ وخت کې هم یوازې نه پریښودل شي.

ماشومان د ځوروني په اړه په سکاټلینډ کې د لویانو په څیر ورته حقوق لري - دا پدې مانا ده چې په سکاټلینډ کې ستاسو ماشوم وهل غیرقانوني دي، حتی که دې هیڅ نښه یا زخم هم نه وي پریښودلی. پدې کې وهل، لګته وهل، فشار ورکول یا د فزیکي برید کوم بل ډول او همدارنګه د شیانو یا وسلو کارول، یا د دې کولو ګواښ کول شامل دي، ترڅو ویره یا اندیښنه رامینځته کړي. د ماشوم وهل په فزیکي او ذهني توګه زیانمونکي دي او په لنډمهاله او وروسته ژوند کې به په دوی اغیزه ولري.

د مور او پلار په توګه، تاسو په قانوني توګه مسؤل یاست چې ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ماشوم تعلیم ترلاسه کړي، یا د ماشوم ښوونځي ته په لیږلو سره یا د نورو وسیلو له لارې (لکه په کور کې زده کړه). یوځل چې تاسو خپل ماشوم ښوونځي ته داخل کړئ، قانون وایي چې ماشوم باید ښوونځي ته لاړ شي پرته لدې چې تاسو د خپل ماشوم د ایستلو لپاره د تعلیمي ادارې څخه اجازه ولرئ. که چیرې ماشوم د معقول عذر پرته غیر حاضر وي، نو کیدې شي چې والدین د قانوني اقدام سره مخ شي، پشمول د محاکمې.

نور معلومات دلته شتون لري:

[School attendance: a guide for parents - gov.scot]

## کورني تاوتریخوالی

کورني تاوتریخوالی هغه کیفیت دی چې یو کس، چې د بل کس انډیوال یا پخوانی انډیوال وي، او هغه دوی ته فزیکي، ذهني، جنسي یا احساساتي زیان رسوي. دا کیدای شي همجنس یا مخالف جنس انډیوال وي، او دا کیدای شي له نارینه ښځه ښځینه ته یا له ښځینه ښځه نارینه ته وي؛ دا تجربه کول د دوی په ورته کور کې ژوند کولو پورې اړه نلري.

په کورني تاوتریخوالی کې شامل کېدای شي:

- تهدید کیدل
- کنځل/ناوړه ژبه
- د هغه څه کنټرول چې تاسو یې کوئ، چیرته ځئ او له چا سره خبرې کوئ
- مالي ناوړه ګټه اخیستنه
- ستاسو ماشومانو یا څارویو ته ګواښ کول
- ستاسو د ملګرو او کورنۍ سره د لیدلو اجازه نه درلودل
- تاسو په دوکه ورکولو تورنول
- ستاسو د جنسي تمایل د افشا کولو ګواښ
- شریکول - یا د شریکولو ګواښ کول - ستاسو د شخصي عکسونو د کورنۍ، ملګرو یا د کار همکارانو سره
- وهل، ټکول، سوک وهل، یا ویشتل یا په شیانو یا وسلو سره ویشتل یا غورځول
- جنسي تېرى، جنسي عملونو ته مجبورول

پولیس به د کورني تاوتریخوالي ټول راپورونه جدي ونیسي. د کورني تاوتریخوالي (سکاټلینډ) قانون 2018 د متاثره وګړي او د هغه د کورنۍ د خوندیتوب او هوساینې د ساتنې لپاره شتون لري. یو کس ته اجازه نشته چې خپل انډیوال په څه هم ډول کنټرول کړي، که هغه احساساتي، فزیکي، جنسي یا مالي وي او په کور کې بندي ساتل هم پکې شامل دي. دا مهمه ده چې ذکر کړو چې په سکاټلینډ کې میشت ټول خلک خپلواکه اراده لري، او که چیرې یو څوک د دې خپلواکې ارادې کنټرول ولري، نو دا به یو جنایي جرم وګڼل شي. ټول خلک، پرته له جنس، حق لري چې خپلې پیسې وګټي او له وېرې پرته په سوله کې ژوند وکړي. دا قانون د ټولو جنسونو او جنسي هویتونو ساتنه کوي او د LGBTQI+ ټولنه پکې شامله ده.

هغه څوک چې د کورني تاوتریخوالي مسؤل وموندل شي، کیدې شي چې ونیول شي او په محکمه کې محاکمه شي. جدي قضیې د بند د سزا پایله لرلی شي.

## تعقیبول

دوه یا ډیر چلندونه چې متاثره وګړې هدف کوي کوم چې د ویرې لامل کیږي، د لامل کیدو سبب وي، یا چیرې چې د مرتکب وګړې پروا نلري چې د هغه چلند د متاثره وګړي د ویرې او اندیښنې لامل کیږي.

د تعقیب چلندونو کې شامل دي:

- یو چوک تعقیبول
- له یو چا سره په کومه هم وسیله اړیکه نیول یا د اړیکې هڅه کول
- د یو چا په اړه د هغه د رضایت پرته د موادو خپرول/نشرول
- د یو چا د تلیفون، انټرنیټ، بریښنالیک یا د نور ډول اړیکو څارنه
- په عامه یا شخصي ځای کې ګرځېدل
- د چا په ملکیت کې مداخله کول
- د چا لپاره ناغوښتل شوي ډالۍ یا یادښتونه پرېښودل
- د چا څارل یا جاسوسي کول

که تاسو فکر کوئ چې تاسو تعقیب کیږي یا ځورول شوي یاست، مهرباني وکړئ د سکاټلینډ پولیسو ته راپور ورکړئ. تاسو 101 ته زنګ وهلو، آنلاین راپور ورکولو یا د بیړني حالت په صورت کې 999 ته زنګ وهلو سره دا په خپل سیمه ایز پولیس سټیشن کې راپور کولی شئ. په سکاټلینډ کې د تعقیب د پیښې د راپور کولو لپاره تاسو د آنلاین تعقیب فورمې ته لاسرسی موندلې شئ. د آنلاین فورمې لینک:
www.scotland.police.uk/secureforms/c3

## امیندواري او حمل سقط یا لرې کول

د امیندوارۍ په اړه نور تفصیلي معلومات په www.readysteadybaby.org.uk کې موندل کیدی شي، یا تاسو د NHS سره په 111 اړیکه نیولي شئ یا د خپل سیمه ایز د ډاکټرانو جراحۍ سره اړیکه ونیسئ یوځل چې تاسو ورسره راجستر شئ.

په سکاټلینډ کې د حمل سقط قانوني دی؛ دا د یو کس حق دی چې انتخاب وکړي او دوی په خپل بدن او آزاده اراده حق لري. د دوه جلا ډاکټرانو په موافقه تر 24 اونیو پورې د امیندوارۍ لرې کول قانوني دي. د امیندوارۍ ختمول باید په روغتونونو یا د NHS تر پاملرنې لاندې منظور شوي مرکزونو کې ترسره شي.

تاسو پدې هیواد کې د راجستر شوي ډاکټر له مشورې پرته امیندوارۍ نشئ ختمولې. NHS د محرمیت په اصول کار کوي؛ له همدې امله، هیڅوک به ستاسو د انتخابونو څخه خبر نشي.

## د ناموس په اساس ناوړه ګټه اخيستنه

د ناموس پر اساس ناوړه ګټه اخيستنه يوه اصطلاح ده چې د هغه جرم يا پيښې تشريح کوي، کوم چې د کورنۍ/او/يا ټولنې د درک شوي ناموس د ساتنې يا دفاع لپاره ترسره شوی وي، يا امکان لري. هغه کسان چې د "ناموس جرمونه" ترسره کوي دا کار ځکه کوي چې دوی باور لري چې متاثره وګړي کورنۍ يا ټولنې ته شرم راوړی دی. پوليس به د دې ډول جرم هر راپور ته په جدي توګه پاملرنه وکړي او بشپړه پلټنه به يې وکړي. د تاوتريخوالي هر ډول عمل سره به سم چلند وشي او کيدی شي له قانوني تعقيب/محاکمې سره مخ شي.

## د ښځو د تناسلي برخې پرې کول (FGM)

د ښځو تناسلي اعضا پرې کول هغو پروسيجرونو ته اشاره کوي چې د غير طبي دلايلو له امله د ښځو تناسلي اعضا تغير يا زخمي کړي. دا ډير دردناک عمل دې او د پروسې په جريان کې او وروسته په ژوند کې جدي روغتيايي ستونزې رامينځته کولی شي. دا په انګلستان کې غيرقانوني دې، او په بهر کې د دې د ترسره کولو تنظيم هم غيرقانوني دې.

که تاسو يوه ښځه ياست او سکاټليند ته د داخليدو دمخه مو دا پروسيجر کړی وي، او دا ستاسو د درد او ستونزو لامل کيږي، مهرباني وکړئ له خپل ډاکټر سره مشوره وکړئ، چې له مخې يې له قضاوت پرته مرسته درلودې شئ.

## استوګنه

### کرايه داري

تاسو پخپله د کور لټون کولی شئ، چیرې به چې تاسو کرایه ورکړئ. کله چې تاسو کور وموموئ او کرایه ورکول پیل کړئ، تاسو ته به 'کرایه دار' ویل کیږي او هغه کس / ټولنه چې تاسو یې کرایه کوئ ستاسو 'د کور مالک' دی. د دې سره د کرایه کونکو ډیر حقوق راځي. لومړی، دا ډیره عامه ده چې تاسو باید خپل د کور مالک ته زیرمه ورکړئ. دا د پیسو یوه اندازه ده چې د کرایې پای ته رسیدو پورې ساتل کیږي ترڅو د هر ډول زیان / ترمیم لګښتونه پوره کړي. ستاسو زیرمه باید ستاسو د کور مالک لخوا د کرایې زیرمه سکیم کې ځای په ځای شي، کوم چې ستاسو زیرمه تر هغه وخته پورې ساتي چې بیرته تادیه شي ستاسو د کور مالک باید ستاسو د زیرمې په شرایطو کې تاسو ته لاندې توضیحات درکړي:

- د کرایه شوي ملکیت ادرس
- دوی څومره پیسې ورکړې، او تاسو کله ترلاسه کړې؟
- هغه نیټه چې تاسو دا په سکیم کې تادیه کړې وې
- د سکیم نوم او د اړیکو جزئیات
- هغوی د کور مالک په توګه راجستر شوي دي، یا د راجستر کیدو لپاره یې غوښتنلیک ورکړی دی
- کله چې هغوی د کرایې په پای کې یو څه یا ټوله زیرمه ساتل غواړئ

که تاسو خپله کرایه پای ته ورسوئ، ستاسو د کور مالک باید تاسو ته خبر درکړي که دوی غواړي چې د زیرمې یوه برخه وساتي. که تاسو له دې سره موافق نه یاست، نو د خپل کور مالک سره د خبرې اترې هڅه وکړئ؛ که دا ناکامه شي، تاسو د هغه سکیم سره شخړه راپورته کولی شئ چې ستاسو د کور مالک یې زیرمه کړې وه.

### شړل/ایستل

ستاسو د کور مالک تاسو پرته له کوم دلیله نشي ایستلی. د ویستلو د پیل کولو لپاره، ستاسو د کور مالک باید:

**تاسو ته د وتلو خبرتیا درکړي چې لاندې شیان پکې شامل وي:**

- دا چې تاسو باید ملکیت پریږدئ
- هغه دلیل چې په سبب یې له تاسو څخه د وتلو غوښتنه کیږي - د 'وتلو زمینه' بلل کیږي
- دوی تاسو ته د کډه کولو لپاره څومره وخت درکوي - ستاسو د 'خبرتیا موده' بلل کیږي

**تاسو ته د خبرتیا موده درکړي**

د خبرتیا موده چې تاسو باید ترلاسه کړئ د وتلو په زمینه پورې او تاسو په ملکیت کې څومره وخت ژوند کړی دی پورې اړه لري. دا به یا وي:

- 28 ورځې (4 اونۍ)

- 84 ورځې (12 اونۍ)

**ستاسو د کور مالک باید د لاندې دلیلونو څخه یو وکاروي:**

1. ستاسو د کور مالک ملکیت پلورل غواړي
2. ملکیت د ګروي پور ورکوونکي لخوا پلورل کیږي
3. ستاسو د کور مالک ملکیت تازه کول/ترمیمول غواړي
4. ستاسو د کور مالک په ملکیت کې اوسیدل غواړي
5. ستاسو د کور د مالک د فامیل غړي په ملکیت کې اوسیدل غواړي
6. ستاسو د کور مالک غواړي چې ملکیت د غیر استوګنې موخو لپاره وکاروي
7. ملکیت د مذهبي مقصد لپاره اړین دی
8. تاسو د خپل کور د مالک کارمند نه یاست یا پدې کې پاتې راغلي یاست
9. تاسو نور ملاتړ شوي استوګنځي ته اړتیا نلرئ
10. تاسو نور د ملکیت قبضه نلرئ
11. تاسو د خپل د کرایي د تړون یو شرط مات کړی دی
12. تاسو د دریو پرله پسې میاشتو لپاره د کرایې بقایا لرئ
13. تاسو اړونده جرمي سزا لرئ
14. تاسو په اړونده غیر ټولنیز چلند کې ښکیل یاست
15. تاسو د ملکیت سره داسې یو څوک شریک کړی وی چې اړونده جرمي محکومیت لري یا په اړونده غیر ټولنیز چلند کې ښکیل وي.
16. ستاسو د کور مالک د نوم لیکنې/راجستر کیدو څخه انکار شوی یا لغوه شوی دی.
17. ستاسو د کور د مالک د HMO جواز لغوه شوی دی یا د نوي کولو څخه انکار شوی دی.
18. ستاسو د کور مالک ته د ګټې ګونې قانوني خبرتیا ورکړل شوې ده

دا مهمه ده چې پدې خبر یاست چې دا څمکه یوازې په ځینو ځانګړو شرایطو کې کارول کیدی شي، کوم چې موندل کیدی شي په: https://www.mygov.scot/tenant-eviction/private-residentialtenancy

## د سیمه ییزې اداري ملاتړ

که تاسو د کور موندلو لپاره مبارزه کوئ، نو هره سیمه ییزه اداره ستاسو ملاتړ کولی شي.  تاسو باید لومړی داړ ترلاسه کړئ چې تاسو د سمې اداري سره اړیکه ونیسئ.  'واکمنه اداره' ستاسو د سیمې شورا ده.  د مثال په توګه، که تاسو په اډینبورګ کې یاست، ستاسو سیمه ایز واکمنه اداره به 'د اډینبورګ ښار شورا' وي.

که تاسو ته 'د پاتې کیدو اجازه' درکړل شي، نو تاسو به عامه فنډونو ته لاسرسی ومومئ.  دا به تاسو ته اجازه درکړي چې:

- که تاسو د ژوند کولو لپاره پیسې نلرئ، د ګټو  اخستنې لپاره غوښتنه وکړئ
- که تاسو د ژوند کولو ځای/استوګنځي نلرئ نو د بې کوره خلکو د ملاتړ لپاره غوښتنه وکړئ

تاسو د بې کوره وګړي غوښتنلیک خپلې سیمه ایزې شورا ته د تګ یا آنلاین تماس نیولو یا د تلیفون له لارې کولی شئ. که تاسو په بیړني توګه د بې کوره خلکو ملاتړ ته اړتیا لرئ، د شورا لخوا د بې کوره خلکو د بیړني مرستې په اړه د Shelter Scotland [د سکاټلینډ پناه ګاه] پاڼه وګورئ. وروسته له دې چې تاسو خپل بې کوره غوښتنلیک ورکړئ، شورا به ستاسو وضعیت وارزوي ترڅو پریکړه وکړي چې دوی به تاسو ته څه مرسته درکړي. تاسو حق لرئ چې ستاسو د بې کوره کیدو غوښتنلیک د سیمه ایزې شورا لخوا وارزول شي او د ارزونې لیکلي تایید درکړې شي. کله چې تاسو ځان د یو بې کوره کس په حیث یوې سیمه ییزې شورا ته وړاندې کړئ، دوی باید له تاسو څخه ونه غواړي چې دا بلې سیمه ییزې شورا ته وړاندې کړئ.

د نورو معلوماتو لپاره، د خپلې سیمه ایزې ادارې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ یا وګورئ: https://scottishrefugeecouncil.org.uk/housing/#Yourrights

**مهم**

که تاسو په یو ملکیت کې ژوند کوئ، کرایه ورکوئ، نو تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو لاندې کارونه کړي دي:

- د شورا مالیه ورکړئ، کوم چې آنلاین یا ستاسو د سیمه ایزې ادارې سره د اړیکو له لارې ترسره کیدی شي.
- که تاسو داسې تلویزیون لرئ چې هر ډول ژوندۍ تلویزیوني چینلونو ته لاسرسی لري، لکه بي بي سي، نو د تلویزیون جواز ادئیګي وکړئ.

## رواني روغتیا

که څوک د خپل رواني روغتیا په اړه مرسته غواړي، نو د (111) NHS او دریمګړي ډلي ادارو له لارې ملاتړ شتون لري. که چیرې بیړنی مرستې ته اړتیا وي، د سکاټلینډ امبولانس خدمت (999) د رواني روغتیا بحراني کیفیت کې د خلکو سره مرسته کوي.

که چیرې یو کس په عامه ځای کې د رواني روغتیا په بحران کې وي او سمدستي پاملرنې یا درملنې ته اړتیا ولري، نو د رواني روغتیا (پاملرنه او درملنه) (سکاټلینډ) قانون 2003 پولیسو ته اجازه ورکوي چې هغه کس ونیسي او د طبي ارزونې ترلاسه کولو لپاره یې خوندي ځای ته بوځي. دا به معمولا یو روغتون وي.

## زیږون، مړینه، واده

ټول زیږونونه باید ستاسو د سیمه ایزې شورا سره په 21 ورځو کې دننه ثبت شي، او ټولې مړینې باید په 8 ورځو کې دننه ثبت شي. ودونه باید په 29 ورځو کې دننه ثبت شي.

# په کور کې قانون

## الکول/شراب

په سکاټلینډ کې، تاسو په قانوني توګه د الکولو اخیستلو او څښلو اجازه لرئ که تاسو 18 کلن یا ډیر عمر لرونکي یاست. د 18 کلونو څخه کم عمر لرونکو لپاره د الکولو اخیستل غیرقانوني دي. په ډیرو دوکانونو او میخانو کې، که تاسو د 25 کلن څخه کم وبریښئ، نو کیدی شي له تاسو څخه د هویت ښودلو غوښتنه وشي. د هویت مثل شوي اسنادو کې پاسپورټ، د انګلستان د موټر چلولو جواز، یا ینګ سکاټ کارت شامل دي چې د PASS نښه لري. سکاټلینډ یو قانون لري چې د لږترلږه واحد قیمت په نوم یادیږي. دا قانون دا باوري کوي چې الکول په ډیر ټیټ نرخونو ونه پلورل شي، ترڅو د الکولو ستونزې کمې شي او خلک خوندي وساتل شي. تاسو اجازه لرئ چې په کور کې او په جواز لرونکو میخانو یا رستورانتونو کې الکول وڅښئ. په هرصورت، په ځینو ښارګوټو یا ښارونو کې، په عامه ځایونو کې، لکه په سړک یا پارکونو کې، د الکولو څښل د سیمه ایزې شورا لخوا منع دي.

## سګرټ څکول او ویپ [ الیکترانکي سګرټ] څکول

د تمباکو یا نیکوټین د محصولاتو د اخیستلو لپاره باید تاسو 18 کلن یا ډیر عمر ولرئ. پدې کې سګرټ، سګار، رولینګ تمباکو، ویپونه (ای-سګرټ)، د نیکوټین کڅوړې، او د ګرم شوي تمباکو محصولات شامل دي. د 18 کلونو څخه کم عمره کسانو لپاره د دې اخیستل غیرقانوني دي، او هغه دوکانونه چې په کم عمره خلکو دا پلوري د جریمې سره مخ کیدی شي. په عامه ودانیو، رستورانتونو، چایخانو، عامه ترانسپورت، ښوونځیو او کاري ځایونو کې د سګرټ څکولو او ویپ کولو اجازه نشته. پدې کې دودیز سګرټ او عصري ویپینګ وسایل دواړه شامل دي. په سکاټلینډ کې د یو ځل استعمالیدونکو ویپونو په پلور او انتقالاتو بندیز د کال 2025 د جون له لومړۍ نیټې نافذ شوی دی. تاسو اجازه لرئ چې د راجستر شویو دوکانونو څخه تمباکو یا ویپ محصولات واخلئ. دا توکي د سړک پلورونکو یا غیر منظور شویو ویب پاڼو څخه مه اخلئ، ځکه چې کیدی شي دا خوندي نه وي او اکثر دا غیرقانوني وي.

## د تلویزیون جواز

په سکاټلینډ کې، که تاسو په کومه وسیله ژوندۍ تلویزیون ګورئ یا د بي بي سي آیي پلیر کاروئ، نو تاسو باید د تلویزیون جواز ولرئ. پدې کې په تلویزیون، کمپیوټر، سمارټ فون، ټابلیټ، یا کوم بل سکرین باندې د ژوندیو چینلونو کتل شامل دي. که تاسو د وروسته کتلو لپاره ژوندۍ تلویزیون برنامې ثبتوئ، نو تاسو د دې لپاره هم جواز ته اړتیا لرئ. خو، که تاسو یوازې د غوښتنې پر اساس خدمات لکه YouTube،Netflix ، Amazon Prime،Disney+ ، یا ورته پلیټ فارمونه ګورئ او تاسو ژوندۍ خپروني یا د بي بي سي iPlayer نه ګورئ، نو تاسو د تلویزیون جواز ته اړتیا نلرئ. تاسو باید د تلویزیون جواز نه درلودلو اعلامیه بشپړه کړئ کوم به چې تاسو لپاره د ناغوښتل شوي بریښنالیکونو ترلاسه کولو مخه ونیسي. مهرباني وکړئ دا آنلاین ترسره کړئ په: https://www.tvlicensing.co.uk

د ژوندیو لوبو/سپورتونو، فلمونو یا چینلونو کتلو لپاره د تعدیل شوي یا زندان مات شوي فایر سټیکونو، تلویزیون بکسونو، یا نورو غیرقانوني نشرونکو وسیلو کارول، پرته له پیسو ورکولو، غیر قانوني دي. دا د ډیجیټل غلا په نوم پیژندل کیږي. د دې وسایلو پلورل او کارول دواړه غیرقانوني دي. هغه خلک چې د پیسو ورکولو نه بغیر د تلویزیوني خدماتو، په شمول د تلویزیون جواز، د دې وسایلو په کارولو سره ونیول شي، کیدې شي جریمه شي یا کیدې شي محاکمه هم شي.

# د پیسو پور اخیستل

که تاسو په سکاټلینډ کې د پیسو پور اخیستلو ته اړتیا لرئ، تل د قانوني او تنظیم شوي پور ورکوونکو لکه بانکونو، کریډیټ اتحادیو، یا مجاز مالي شرکتونو څخه کار واخلئ. دا سازمانونه باید سخت قانونونه تعقیب کړي ترڅو له پیرودونکو سره عادلانه چلند وکړي او د دوی د پورونو اداره کولو کې مرسته وکړي. تاسو باید هیڅکله د هغه چا څخه پیسې پور وانخلئ چې په رسمي ډول راجستر شوی نه وي. دا غیرقانوني پور ورکوونکي اکثر ډیر لوړ سود اخلي او کیدې شي د خپلو پیسو بیرته ترلاسه کولو لپاره ګواښونه یا تاوتریخوالي وکاروي.

د پور ورکوونکو سره معامله کول خطرناکه او د قانون خلاف ده. که تاسو د پیسو یا پور سره مبارزه کوئ، نو وړیا مرسته شتون لري.

تاسو د ملاتړ او مشورې لپاره د Citizens Advice Scotland [سکاټلینډ د ښاریانو مشورې]، Step Change [ګام بدلون]، یا Money Advice Scotland [د سکاټلینډ د پیسو مشورې] سره اړیکه نیولی شئ. دوی به ستاسو قضاوت ونه کړي، او هر څه چې تاسو یې ورته وایې محرم ساتل کیږي.

# د سړک قانون

مهم قوانین چې باید په عامه ځایونو کې تعقیب شي.

## د ټولنې پر ضد چلند

دا شیان ستونزې رامینځته کولی شي او د جریمې یا د پولیسو لخوا د نیول کیدو لامل کیدی شي:

- چیغې وهل، قسم خوړل، جګړه کول.
- د خلکو په وړاندې تاوتریخوالی یا ګواښ کول.
- د ګاونډیانو یا نا اشنا خلکو سپکاوی یا وربانديې چیغې وهل.
- په سړک کې کثافات یا کچره/ګند غورځول.
- ملکیت ته زیان رسوول (بینچونه، کړکۍ).

## عامه نظم - سوله ساتل

تاسو کیدې شئ د ستونزې سره مخ شئ په سبب د:

- په هغه ځای کې د الکولو څښل چې اجازه یې نه وي.
- په داسې ډول عمل کول چې خلک ترې ویره یا ګواښ احساس کړي.
- په عامه منطقه کې جګړه کول یا په جارحانه ډول عمل کول.
- پولیسو ته غوږ نه نیول کله چې دوی د ودریدو غوښتنه وکړي.

## کثافات غورځول - د سړکونو پاک ساتل

تاسو باید کثافات غوزار نکړئ، له تهیه شوو د کثافاتو ډبو څخه استفاده وکړئ یا یې کور ته یوسئ. که چیرې تاسو کثافات غورځولو باندې ګیر شئ، نو تاسو به د جریمې له خطر سره مخ شئ.

دا یو جرم دی چې په عامه ځایونو کې د خپل سپي کثافات پاک نکړئ.

## عامه بې حیایي

د خپل بدن هغه برخې په عامه ځایونو کې مه ښکاره کوئ چې نورو ته تکلیف رسوي، پدې کې د سینې یا تناسلي برخې شاملې دي. دا یو جرم دی. هغه چلند چې په شخصي توګه اجازه لري خو که چیرې په عامه توګه ترسره شي، نو جرم ګڼل کیدی شي.

په عامه ځایونو کې جنسي عملونه هم غیرقانوني دي او جرم دې.

## ودرول او تالاشي کول

که پولیس فکر وکړي چې تاسو وسله، غلا شوي توکي یا مخدره توکي لرئ، نو کولی شي چې تاسو ودروي او ستاسو، ستاسو د کڅوړې، جیبونو یا موټر تلاشي وکړي.

ارام اوسئ، تاسو دا هم پوښتنه کولی شئ چې ستاسو تلاشي ولې کیږي. تاسو دا حق هم لرئ چې د ژباړونکي غوښتنه وکړئ. یوه ښځه باید د یوې ښځینه افسرې لخوا تالاشي شي.

## د پیاده لارو کارول

پیاده لارې د ګرځېدو لپاره دي؛ هغه د هرچا لپاره پاکې وساتئ. د بایسکلونو، موټرسایکلونو، ټرالیانو یا کڅوړو سره لارې مه بندوئ. سړکونه په خوندي ځایونو لکه ترافیکي څراغونو یا د پیاده تګ لارو څخه عبور کړئ.

د موټرو لارو یا د ګڼې ګوڼې سړکونو سره نږدې محتاط اوسئ.

# د موټر چلولو قوانین

که تاسو غواړئ چې په سکاټلینډ کې موټر وچلوئ، نو تاسو به لاندې شیانو ته اړتیا ولرئ:

## څوک موټر چلولی شي؟

په سکاټلینډ کې د موټر یا موټرسایکل چلولو لپاره، تاسو باید لږترلږه 17 کلن وئ. تاسو به د هغه ځانګړي موټر لپاره د موټر چلولو یو معتبر جواز ته هم اړتیا ولرئ. دا مهمه ده چې ښه روغتیا ولرئ او هوښیار اوسئ، او تاسو باید د الکولو یا مخدره توکو تر اغیزې لاندې نه یئ. که تاسو د 16 کلونو څخه پورته عمر لرئ او معلول یاست، نو تاسو د ځانګړو معیارونو لاندې د جواز لپاره غوښتنه کولی شئ. د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DVLA ویب پاڼه وګورئ.

## ستاسو د موټر چلولو جواز

**د انګلستان اوسیدونکي**

په انګلستان کې د بشپړ موټر چلولو جواز ترلاسه کولو لپاره، تاسو باید لومړی د موټر چلولو موقتي جواز لپاره غوښتنه وکړئ. د کمپیوټر پر بنسټ تیوري/تحریري ازموینه هم باید ترسره شي، کوم چې ستاسو د سړک د قوانینو او خوندیتوب پوهه چک کوي. له هغې وروسته، تاسو اړتیا لرئ چې د موټر چلولو عملي ازموینه ترسره کړئ ترڅو وښایئ چې تاسو په سړک کې په خوندي ډول موټر چلولی شئ. کله چې تاسو دواړه ازموینې په بریالیتوب سره بشپړې کړئ، تاسو به د موټر چلولو جواز ترلاسه کړئ.

**بهرني/غیر ملکي موټر چلوونکي**

که تاسو سکاټلینډ ته سفر کوئ یا په دې وروستیو کې هلته تللي یاست، نو تاسو د محدود وخت لپاره د خپل اوسني موټر چلولو جواز څخه کار اخیستلی شئ. دلته د دې یو ساده لنډیز دی:

- که ستاسو د موټر چلولو جواز د EU یا EEA (اروپایي اتحادیې یا اروپایي اقتصادي سیمې) څخه وي، نو تاسو په انګلستان کې تر هغه وخته پورې موټر چلولی شئ چې تاسو 70 کلن شئ یا انګلستان ته له راتګ وروسته تر دریو کلونو لپاره، کوم یو چې زیات وي. له هغې وروسته، تاسو کولی شئ دا د انګلستان جواز ته واړوئ پرته له د موټر چلولو د ازموینې
- که ستاسو جواز د آسټرالیا، کاناډا، جاپان یا نیوزیلینډ په څیر هیوادونو څخه وي، نو تاسو انګلستان ته له راتګ وروسته تر یو کال پورې موټر چلولی شئ. د ینځو کلونو په اوږدو کې، تاسو خپل جواز د انګلستان جواز ته اوړولی شئ پرته له ازموینې
- که ستاسو جواز له بل ځای څخه وي، تاسو بیاهم تر یو کال پورې موټر چلولی شئ. له هغې وروسته، به تاسو اړتیا ولرئ چې د انګلستان د موقتي جواز لپاره غوښتنه وکړئ او تحریري/ تیوري ازموینه او د موټر چلولو عملي ازموینه دواړه پاس کړئ.
- که ستاسو د موټر چلولو جواز په انګلیسي ژبه نه وي، نو دا ښه نظر دی چې د موټر چلولو نړیوال جواز (IDP) یا د خپل جواز تصدیق شوی ژباړه له ځان سره ولرئ.

په دې توګه، تاسو کولی شئ په خوندي او قانوني ډول موټر چل کړئ پداسې حال کې چې تاسو په سکاټلینډ کې د ژوند کولو سره بلد شئ.

د موټر د اسنادو کار

## د سړک مالیه

هغه ټول موټرونه چې په عامه سړکونو  ګرځي، باید مالیه ورکړي.  تاسو د موټر مالیه په اسانۍ سره په دې ویب پاڼه کې آنلاین جمع کولای شئ: www.gov.uk/vehicle-tax

## بیمه

د موټر چلولو لپاره، تاسو باید بیمه ولرئ.  لږ تر لږه، تاسو باید د دریمګړي ډلې بیمه ترلاسه کړئ.  دا ډول بیمه د هر  هغه زیان لپاره تادیه کولو کې مرسته کوي چې تاسو یې د نورو خلکو موټرو یا ملکیت ته رسولی شئ.  دا هم مهمه ده چې ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو نوم د بیمې په پالیسۍ کې لیست شوی وي او بیمه فعاله او تازه وي.

## د MOT ازموینه

که ستاسو موټر له دریو کلونو څخه زوړ وي، نو تاسو یې خوندیتوب باید هر کال د MOT په نوم ازموینې کې وګورئ.  تاسو  دا ازموینه په یو باوري ګراج کې مهالویش کولی شئ.  د ازموینې پایلې په آنلاین ریکارډ کې ساتل کیږي، او دا یو ښه فکر دی چې یو نقل یې د ځان لپاره هم وساتئ.  په یاد ولرئ، د موټر چلول چې د اعتبار وړ مالیه، بیمه، یا MOT نلري، د قانون خلاف کار دی. داسې کول د جریمې یا حتی ستاسو د موټر د وړلو /بندولو لامل هم کیدی شي.

**مهم:**  ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو ټایرونه په ښه حالت کې دي.  د ټایر لپاره قانوني لږترلږه د کرښو ژوروالی 1.6 ملي میتر دی چې د ټایر د کرښو د پلنوالي په مرکزي دریو  څلورمه برخه کې کچ کیږي او د هغې د ټول محیط شاوخوا اندازه تري کیږي.  په منظم ډول خپل ټایرونه د خرابوالي، د هوا د ټیټ فشار، یا کوم زیان لپاره وګورئ.  که دوی په ښه حالت کې نه وي، نو د دوی د بدلولو وخت دی.

## په سړک کې د خوندیتوب قواعد

- کله چې په موټر کې یاست نو تل خپل سیټ بیلټ واغوندئ.
- د سرعت محدودیتونه تعقیب کړئ پرته لدې چې داسې نښې شتون ولري چې تاسو ته د ورو تګ لپاره وایي:
  - اکثر ښارګوټي یا ښاري سیمې په ساعت کې د 20، 30 یا 40 میله سرعت زونونه لري.
  - اکثر عمومي سړکونه په ساعت کې د 40، 50 یا 60 میله سرعت زونونه لري.
  - اکثر لویې لارې په ساعت کې د 70 میله سرعت لري، مګر ځینې کیدې شي کم محدودیت ولري.
- د سرعت د محدودیتونو د دولتي پاڼې لینک Speed limits - GOV.UK ځکه چې اوس ډیر ښارونه په ساعت کې د 20 میله سرعت محدودیت ټاکي.
- د موټر چلولو پرمهال هیڅکله د لاس لاندې وسیله مه کاروئ، لکه تلیفون یا سیټلایټ نیویګیشن، پرته لدې چې تاسو د لاسونو نه بغیر سیټ اپ (هینډز فري) ولرئ چې تاسو ته اجازه درکوي چې وسیله په لاس کې نیولو نه بغیر خبرې وکړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې د موټر چلولو پیل کولو دمخه وسیله په بشپړ ډول تنظیم کړئ او هیڅکله یې په سړک کې مه کاروئ. همدارنګه، دا هم مهمه ده چې دا وسیله د موټر چلولو پرمهال ستاسو د سړک لید بند نه کړي.

**په سړک کې خوندي اوسئ!**

د شرابو څښل - د موټر چلولو قانون

سکاټلینډ په انګلستان کې د شرابو څښلو پر مهال د موټر چلولو تر ډېرو سخت محدودیتونه لري:

- په هر 100 ملی لیتر ساه کې 22 مایکرو ګرامه الکول
- په هر 100 ملی لیتر وینه کې 50 ملي ګرامه الکول
- په هر 100 ملی لیتر متیازو کې 67 ملي ګرامه الکول

## صفر برداشت

که تاسو د موټر چلولو پلان لرئ، نو غوره پریکړه دا ده چې د شرابو څخه ډډه وکړئ. حتی لږ الکول هم ستاسو د موټر چلولو وړتیا اغیزه کولی شي.

دا قانون د هرچا لپاره دی، که تاسو نوی موټر چلوونکی یاست یا که له ډیرو کلونو راهیسي موټر چلوئ.

## د شرابو د تاثیر لاندې د موټر چلولو پایلې

که تاسو په سکاټلینډ کې د شرابو په نشه کې موټر چلولو کې ونیول شئ، نو کیدې شي تاسو مخ شئ:

- د موټر چلولو بندیز سره (لږترلږه 12 میاشتې)
- د جرمي ریکارډ سره
- د جریمې سره (تر 5000 پونډو پورې)
- تر 6 میاشتو پورې په زندان کې
- د موټر د بیمې لګښتونه زیاتیدو سره
- د خپلې دندې له لاسه ورکولو سره، په ځانګړې توګه که تاسو کار لپاره موټر چلوئ.

د تکراري جرمونو یا ډیرو جدي قضیو لپاره (لکه د حادثې پیښیدل)، جزاګانې حتی ډیرې سختې کیدی شي.

## د هغې نه وروسته د راتلونکي سهار په اړه؟

الکول ستاسو په بدن کې د څو ساعتونو لپاره پاتې کیدی شي. دا پدې مانا ده چې کیدې شي تاسو لاهم دومره معیوب یاست چې بل سهار موټر چلول مو ستونزمن وي، په ځانګړې توګه که تاسو تیره شپه ډیر شراب څښلي وي. د بیا ارامه کیدو لپاره کومه چټکه لاره نشته؛ یوازینی حل دا دې چې انتظار وکړئ تر هغه چې ستاسو بدن الکول پروسس کړي.

## خوندي اوسئ - مخکې پلان وکړئ

د لفټ انتظام وکړئ، عامه ترانسپورت وکاروئ، یا ټیکسي ته زنګ ووهئ.

یو معتبر موټر چلوونکی وټاکئ چې له الکولو پاک وي.

هیڅکله د هغه چا څخه چې شراب یې څښلي وي، لفټ مه اخلئ.

**که موټر چلوئ، نو شراب مه څښئ.**

**که تاسو شراب څښلي وي، موټر مه چلوئ.**

**مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې د شرابو  د تاثیر لاندې سائیکل چلول هم جرم دی.**

# په سکاټلینډ کې د سړک ترافیکي جرمونه

په سکاټلینډ کې، په سړکونو د موټر چلولو لپاره قواعد شتون لري ترڅو د هر هغه چا خوندیتوب ډاډمن شي چې دا کاروي.  که تاسو د موټر چلولو په حال کې یاست، نو دا اړینه ده چې پوهه ولرئ چې څه اجازه لري او څه نه.

## د سړکونو عمومي ترافیکي جرمونه

د حادثې وروسته له ودریدو ډډه کول

تیز رفتاري

د الکولو یا مخدره توکو تر تاثیر لاندې موټر چلول

د بې احتیاطی یا خطرناک موټر چلولو له امله د مرګ لامل کیدل

خطرناک موټر چلول

د موټر چلولو پرمهال د ګرځنده تلیفون/موبائیل کارول

په بې احتیاطي یا بې پرواهی موټر چلول

د اعتبار وړ بیمې پرته موټر چلول

د جواز پرته یا د نا اهلی په وخت کې موټر چلول

د ترافیکي اشارو خیال نه کول (د مثال په توګه په سره بتی موټر چلول)

د سیټ بیلټ نه تړل

د اعتبار وړ MOT سند پرته موټر چلول

د موټر د ناامنه یا خرابو پرزو سره موټر چلول

## جزاګانې

که تاسو د دې قوانینو څخه کوم یو مات کړئ، نو بیا څه پیښیږي چې د جرم د جدي والي پورې اړه لري. کیدې شي تاسو مخ شئ سره د:

- یوه مالي جریمه چې تاسو یې باید ورکړئ
- ستاسو د موټر چلولو ریکارډ ته اضافه شوي ټکي
- په موټر چلولو موقتي بندیز
- په جدي قضیو کې، کیدې شي ډیرې جدي پایلې ولري شي

دا مهمه ده چې پوه یاست چې دا جریمې ستاسو د موټر چلولو وړتیا اغیزه کولی شي.

## د جزا ټکي او تخفیفونه

کله چې تاسو د موټر چلولو ځینې جرمونه کوئ، نو ستاسو د موټر چلولو ریکارډ ته ټکي اضافه کیږي. دا ټکي ستاسو په ریکارډ کې تر څو کلونو پورې پاتې کیږي، چې د جرم ډول پورې اړه لري. که تاسو د 3 کلونو په موده کې 12 یا ډیر ټکي راټول کړئ، نو احتمال لري چې تاسو به لږترلږه د 6 میاشتو لپاره د موټر چلولو اختیار له لاسه ورکړئ.

د هغو نویو موټر چلوونکو لپاره چې په تیرو دوو کلونو کې یې د موټر چلولو ازموینه پاس کړې وي، یوازې 6 ټکي د دوی د موټر چلولو جواز لغوه کولی شي. په دې حالت کې، تاسو باید د خپل جواز بیرته ترلاسه کولو لپاره د موټر چلولو ازموینه بیا ادعا کړئ.

# برقي بایسکلونه او برقي سکوټرونه

## د برقي بایسکل چلولو لپاره:

- دا باید داسې پیډلونه ولري چې د بایسکل د چلولو لپاره وکارول شي.
- موټر باید په ساعت کې د 15.5 میله په سرعت (25 کیلومتره/ساعت) سره ودریږي.
- موټر باید د 250 واټو څخه ډیر طاقت ونلري.
- د دې چلولو لپاره تاسو باید 14 کاله یا ډیر عمر ولرئ.
- د دې چلولو لپاره جواز، بیمې، یا د سړک مالیې ته اړتیا نشته.

هر برقي سایکل چې د EAPC مقرراتو سره سم نه وي، موټرسایکل یا موپیډ ګڼل کیږي، چې راجستریشن او مالیې ته اړتیا لري، او چلونکي باید د موټر چلولو معتبر جواز ولري او هیلمټ واغوندي.

## د برقي سکوټر چلولو لپاره:

په سکاټلینډ کې په عامه سړکونو، پیاده رووںو او بایسکل لارو کې د شخصي ملکیت لرونکي برقي-سکوټرونو کارول د قانون خلاف دي. تاسو یوازې هغه وخت په شخصي ملکیت کې دا چلولې شئ که تاسو د هغه چا څخه اجازه ولرئ چې د ملکیت مالک وي. دا ځکه چې ای-سکوټرونه د کال 1988 د سړک ترافیک قانون له مخې د موټرو په توګه درجه بندي شوي دي.

## د سکوټر درلودلو او چلولو اړتیاوې:

بیمه

د موټر چلولو جواز

د سړک مالیه

که تاسو دا اړتیاوې پوره نه کړئ، نو تاسو قانون ماتوئ.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې مذهبي لباس، لکه پګړۍ، د هلمیټ استثنا ده.

## جزاګانې

که تاسو په عامه ځایونو کې د شخصي ای-سکوټر کارولو سره ونیول شئ، نو کیدې شي چې تاسو مخ شئ سره د:

- د بیمې پرته د موټر چلولو لپاره د موټر چلولو جواز باندې 300 پونډه جریمه او شپږ جرمې ټکي
- د سم جواز پرته د موټر چلولو لپاره 100 پونډه جریمه او له دریو څخه تر شپږو پورې جرمې ټکي
- په پیاده رو کې چلولو لپاره 50 پونډه جریمه
- د چلولو پرمهال د ګرځنده تلیفون کارولو لپاره 200 پونډه جریمه او شپږ جرمې ټکي
- په سرو بتیانو د چلولو لپاره 100 پونډه جریمه او احتمالي جرمې ټکي
- د محکمې لخوا لګول شوي جریمې، د موټر چلولو بندیز، او د الکولو یا مخدره توکو تر اغیز لاندې د موټر چلولو لپاره احتمالي زندان

# د کار په ځای کې قانون

استخدام/دنده د یوې موافقې په توګه تعریف شوې دې چې پکې به کار ورکوونکی کارمند ته د دوی لپاره د کار ترسره کولو په بدل کې پیسې ورکوي. دا موافقه په لیکلي یا شفاهي ډول کیدی شي.

## ستاسو حقوق

د کارمندانو حقوق - د کال 1996 د استخدام د حقوقو د قانون لاندې، دا په ګوته کوي چې کارمندان د غیر عادلانه ګوښه، تبعیض څخه خوندي دي او د ټولو کارمندانو سره په هر ډول او د معاش، ساعتونو او رخصتۍ په اړه عادلانه چلند کیږي.

- ستاسو د کار د پیل نیټې څخه د 2 میاشتو په اوږدو کې د کار د شرایطو لیکلی بیان.
- د هرې ترلاسه شوې تنخوا سره د معاش د سلپونو ترلاسه کولو حق.
- د ملي لږ تر لږه معاش د ترلاسه کولو حق
- د رخصتیو د معاش حق، چې د بشپړ وخت کارمندانو لپاره په کال کې 28 ورځې دې.
- د نیم وخت کارمندان د تناسب مقدار مستحق دي.
- د نیم وخت کارمندان د بشپړ وخت کارمندانو په څیر ورته حقوق لري
- د نویو والدینو لپاره د معاش سره د والدینو د رخصتۍ حق
- ستاسو د عمر، معلولیت، جنس، جنسي تمایل، نژاد، مذهب/عقیدې او امیندوارۍ پر بنسټ د تبعیض نه کیدو حق.

## ګوښه کول

که تاسو له دندې ګوښه شئ، نو تاسو حق لرئ چې د خپل کار ورکوونکي څخه د خپلې دندې د ختمولو په اړه لیکلي وضاحت ترلاسه کړئ که تاسو هلته د 2 کلونو یا د دې نه ډیر وخت لپاره کار کړی وي. که چیرې یو کس چې امیندواره وي یا د زیږون په رخصتۍ کې وي له دندې ګوښه شوی وي، نو دوی حق لري چې لیکلي دلیل ولري، مهمه نده چې دوی هلته څومره وخت کار کړی وي. که تاسو په غیر عادلانه ډول له دندې ګوښه شوي یاست، نو تاسو حق لرئ چې د خسارې غوښتنه وکړئ که چیرې تاسو هلته د 2 کلونو یا د دې نه ډیر وخت لپاره کار کړی وي.

## روغتيا او خونديتوب

کارګمارونکي بايد ډاډ ترلاسه کړي چې د دوی کارمندان په خوندي کاري ځای او چاپيريال کې دي.  دوی بايد د اړتيا په صورت کې ټولو کارمندانو ته اړين تجهيزات او روزنه چمتو کړي، څکه چې دا به د کارمندانو لپاره هر ډول خطرونه کم کړي.

## مساوات او تبعيضونه

د کال 2010 د مساواتو د قانون لاندې، چې دا وايي چې د هر چا په وړاندې تبعيض د دغو لاندنيو خوندي ځانګړتياوو پر بنسټ غير قانوني دی:

- عمر/سن
- د جنسيت بدلون
- واده شوی يا په مدني انډيوالی کې
- اميندواره يا د زېږون په رخصتی کې
- معلوليت
- نژاد، په شمول د رنګ، مليت، قومي يا ملي اصل
- مذهب يا عقيده
- جنس
- جنسي تمايل

## د کار قراردادونه/تړونونه

واضح او د قانون له مخې پلي کېږي، دوی اړين دي او بايد د کار شرايط، معاش او مسؤليتونه په ګوته کړي. که تاسو ډاډه نه ياست چې ايا دا ستاسو لپاره پلي کېږي، تاسو  اړيکه نيولی شئ:  Citizens Advice Bureau [د ښاريانو د مشورې دفتر] سره، د دوی د ويب پاڼې له لارې www.cas.org.uk يا په خپله سيمه کې خپل سيمه ايز دفتر ته زنګ ووهئ.

د مشورتي، پخلاينې او منځګړيتوب خدمت، چې د (ACAS) په نوم هم پيژندل کيږي د دوی د ويب پاڼې له لارې: www.acas.org.uk يا **0300 123 1100** ته زنګ وهلو سره.

که تاسو ژباړونکي ته اړتيا لرئ، تاسو کولی شئ په دې شميره زنګ ووهئ او  د يو غوښتنه وکړئ.  تاسو په **18001 0300 123 1100** شمېره پيغام هم استولی شئ که چيرې تاسو په تليفون کې خبرې يا غږ نه شئ اوريدلی. ACAS د دوشنبې څخه تر جمعې پورې د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 6 بجو پورې خلاص وي.

# د جرم متاثرين

## متاثره وګړي څوک کېدای شي؟

جرم په هر چا اغیزه کولی شي، پرته له دې چې عمر، جنس، یا شالید یې په پام کې ونیول شي.  متاثره وګړي په ساده ډول هغه څوک دی چې په یو ډول د جرم له امله ټپي شوی وي، چې د فزیکي ټپونو، احساساتي کړاو، یا مالي زیان معنی لري.

## څه باید وکړم که چیرې زه متاثره وګړی یم؟

غلی مه پاتې کیږئ.  د هغه څه په اړه چې تاسو یې تجربه کوئ له چا سره خبرې کول د ملاتړ ترلاسه کولو او د درد د مخنیوي لپاره لومړی ګام دی.

تاسو له لاندې کسانو سره خبرې کولی شئ:

- د کورنۍ یو باوري غړی یا ملګری
- پولیس
- د ملاتړ سازمان

دا په بشپړه توګه عادي خبره ده چې کله ناکله ویره یا ناڅرګندتیا احساس کړئ، مګر په یاد ولرئ چې تاسو پدې کې یوازې نه یاست.

د متاثره وګړي په توګه ستاسو حقوق

که تاسو په سکاټلینډ کې جرم تجربه کړی وي، نو دا مهمه ده چې خبر یاست چې تاسو ځینې حقوق لرئ.  دا حقونه پدې سخت وخت کې ستاسو ملاتړ کولی شي.

- تاسو  سره په عزت او درناوي چلند وشي
- د خپلې قضیې د پیښنو په اړه معلومات ترلاسه کول
- د ملاتړ خدماتو ته لاسرسی چې تاسو سره په مقابلې کولو او رغیدو کې مرسته کوي
- ملاتړ که ستاسو قضیه محکمې ته لاړه شي

ستاسو په قضیه کې ښکیل ټول کسان، لکه پولیس افسران، وکیلان، او د محکمې کارمندان، باید له تاسو سره په درناوي او انصاف سره چلند وکړي.

**برید**

برید د بل چا په شخص باندې حمله ده. دا به معمولا د فزیکي برید بڼه غوره کړي. د قانون له مخې د برید په توګه تشریح کیدو لپاره، ضروري نه ده چې برید د ټپي کیدو لامل شي. برید د لاسونو او پښو یا د لرګیو، خښتو یا چاقو په څیر وسلو په کارولو سره ترسره کیدی شي. دا هم د برید په توګه درجه بندي کیږي که چیرې څوک په تاسو لاړې تو کړي یا ګواښ وکړي چې خپل سپی به پر تاسو پریږدي. سخت برید جرم نور هم جدي کوي. برید په څو طریقو زیاتیدلی شي، د بیلګې په توګه، د وسلې کارولو له لارې؛ که متاثره وګړې بوډا یا ماشوم وي؛ یا که متاثره وګړې په خپل کور کې برید شوی وي. په دې هیواد کې دا غیرقانوني ده چې ځان سره چاقو یا وسله وګرځوئ.

## آتشي وسله

په سکاټلینډ کې، د مناسبې اجازې پرته د ټوپک کارول یا ګرځول یو جدي جرم دی. د وسلو په اړه قوانین ډیر سخت دي او د هرچا د خوندیتوب لپاره شتون لري. پدې کې ستن (برقي شاټونو) ټوپکونه او د مرچو سپرې هم شاملې دي.

### جرمونه

- د وسلو د اعتبار وړ سند یا جواز پرته د ټوپک درلودل
- په عامه ځای کې د قانوني دلیل پرته د وسلو ګرځول
- د جرم، لکه غلا یا برید، د ترسره کولو لپاره د وسلو کارول
- د چا ژوند ته د خطر په نیت د وسلو درلودل
- په کورني ځایونو/شخصي استوګنځایونو کې د منع شویو وسلو درلودل، د کال 2019 د زیان رسونکو وسلو قانون 46مه برخه
- په غیرقانوني ډول د وسلو عرضه یا پلورل
- د منع شویو وسلو درلودل لکه اتومات وسلې، چاقوګان یا زنګ وهونکي مواد.

### جزاګاني

که څوک د مناسب جواز پرته د ټوپک سره ونیول شي، نو هغه تر پنځو کلونو پورې په بند محکوم کیدې شي او کیدې شي لویه جریمه هم ولري.

که چیرې د جرم د ترسره کولو لپاره له وسلې څخه کار واخیستل شي، نو پایلې یې ډیرې جدي کیدی شي، چې احتمالاً د عمر قید سزا سبب ګرځیدلې شي. د یو څوک د ژوند د خطر سره د مخامخ کولو په نیت د وسلو درلودل هم د عمر قید سبب کیدی شي.

د غیرقانوني وسلو انتقال د نامحدود بند سزا درلودې شي.

په عامه ساحه کې د جعلي ټوپک درلودل د بندیوانیدو لامل کیدې شي که چیرې دا خلک ویروي یا که تاسو یې په ګواښونکي ډول وکاروئ.

# په سکاټلینډ کې د جرمي مسؤلیت عمر

په سکاټلینډ کې، د جرمي مسؤلیت عمر 12 کلن دی.

دا پدې مانا ده چې د 12 کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان په جرم تورنیدې نشي یا بندیوانیدې نشي. که چیرې یو ماشوم، چې عمر یې د 12 کلونو څخه کم وي، خو بل چا د جدي زیان رسولو یا د هغه د خطر په اړه شکمن وي، بیا هم د پولیسو او ټولنیزو کارونو لخوا پلټنه کیدی شي.

د هغو ماشومانو لپاره ملاتړ شتون لري چې داسې چلند ښیي چې کیدې شي نورو ته زیان ورسوي.

- هر هغه انسان چې عمر یې له 18 کلونو څخه کم وي د ماشوم په توګه تعریف کیږي
- دا قانون د ماشومانو د ساتنې لپاره مطرح شوی دې پداسې حال کې چې د هرچا د خوندیتوب خیال هم وساتي

## جنسي جرمونه

جنسي تيری پرته له ستاسو د جنس، عمر يا د پوستکي رنګ رامنځته کېدای شي. دا د نا اشنا خلکو، ملګرو يا کورنۍ د غړو ځخه رامينځته کيدې شي او په مدني رابطه او/يا واده کې واقع کيدی شي. په سکاټلينډ کې د جنسي رضايت لپاره عمر 16 کاله دی. رضايت هر وخت بيرته اخيستل کيدی شي.

### جبري جنسي تېری

جبري جنسي تېری هغه وخت کيږي کله چې يو څوک بل کس د هغه له اجازې پرته جنسي اړيکې ته اړ باسي يا يې چل کړي. دا هغه پيښه ده چيرته چې يو کس د بل کس په مهبل، مقعد يا خولې کې خپل تناسلي عضو ننباسي.

### جنسي تېری

دا هر ډول ناغوښتل شوي جنسي لمس يا فزيکي تماس ته اشاره کوي. پدې کې مختلف عملونه شامل دي او د هر چا لخوا ترسره کيدی شي، پرته له دې چې د دوی جنس کوم يو وي.

### جنسي جبر

دا د قانون خلاف ده چې يو څوک د فشار، ګواښونو يا چلونو په کارولو سره په جنسي فعاليت کې برخه واخلي که دوی/مخالف فريق يې نه غواړي. هرڅوک د انکار حق لري، او دا مهمه ده چې درناوی يې وشي.

### د ماشومانو پر خلاف جرمونه

د 16 کلونو څخه کم عمر لرونکي هر چا سره د هر ډول جنسي فعاليت د قانون خلاف دي.

### د انځور پر بنسټ جنسي ناوړه ګټه اخيستنه

د اجازې پرته د شخصي عکسونو شريکول يا د شريکولو ګواښ کول د قانون خلاف دي. دا عمل اکثر د "فحش انتقام" په نوم يادېږي.

### د ويوريزم [نه غوښتل شوې پټ کتل] او غير اخلاقي اړيکې

دا د قانون خلاف ده چې په پټه توګه د يو چا په شخصي ځای کې د هغه له اجازې پرته هغه وګورئ يا يې ثبت کړئ. سربېره پردې، د رضايت پرته د لوڅ پيغامونو يا انځورونو ليږل هم جرم دی.

جنسي ځورونه

جنسي زور زياتی يا "جنسي ځورونه" د آنلاین بلیک میل کولو یو ډول دی.

د سکاټلینډ په ګډون په ټوله نړۍ کې د هر عمر، جنس او جنسیت ماشومان او ځوانان د دې نه متاثره کیږي.

لويان مجرمان، چې اکثر د بهرنيو سازمان شويو جرمي ډلو څخه وي، ګواښ کوي چې د يو کس بربنډ يا نيم بربنډ عکسونه او/يا ويډيوګاني شريکي کړي، پرته لدې چې دوی ورته پيسي ورکړي يا کومه غوښتنه يې ترسره کړي.

جنسي ځورونه ممکن تعبير شي له:

- جنسي يا نامناسب انځورونو چې آنلاین شریک شوي وي، اکثر د هغو کسانو لخوا چې ځان د بل چا په څير ښکاره کوي يعني خپل اصل پټوي.
- هغه انځورونه چې غلا شوي وي، د هیک کولو له لارې اخيستل شوي وي، يا د مصنوعي ذهانت جنراتورونو يا د عکس بدلولو نورو ټيکنالوژۍ په کارولو سره جعلي جوړ شوي وي.

کیدې شي چې مجرم د پیسو، ډالی کارتونو یا بټکوین غوښتنه وکړي. کیدې شي چې دوی هڅه وکړي چې سړی مجبور کړي چې هغه څه وکړي چې دوی يې ترې غواړي، لکه دوی ورته خپل بانکي حساب ته لاسرسی ورکړي یا نور جنسي عکسونه یا ویډیوګاني چمتو کړي.

https://crimestoppers-uk.org/fearless/professionals/fearless-scotland/sextortion-in-scotland

## د جنسي ځورونې د هڅو په نښو کې شامل کېدای شي:

- دوی هڅه کوي چې له تاسو سره ډېر ژر اړيکه پر مخ بوځي. دوی کیدې شي فلرټ/چاپلوس وي، تاسو ته ووايي چې تاسو د دوی ډیر ژر خوښ شوئ، يا د جنسي / غير اخلاقي عکسونو او ویډیوګانو غوښتنه وکړي. ځينې کیدې شي لومړی تاسو ته خپل یو جنسي/ناوړه انځور واستوي.
- دوی پر تاسو فشار راوړي چې هغه کارونه وکړئ چې تاسو ورسره آرام نه یاست. کیدې شي چې دوی په مکرر ډول له تاسو څخه وغواړي چې هغه جنسي کارونه وکړئ چې تاسو ورسره آرام نه احساس کوئ. دا هیڅکله سمه نه ده چې څوک له تاسو څخه د هغه کارونو غوښتنه وکړي چې تاسو يې نه غواړئ
- کیدې شي دوی تاسو ته ووايي چې دوی تاسو هک کړي یاست یا ستاسو اړیکو ته لاسرسی لري. ځينې بلیک میلران کیدې شي تاسو ته ووايي چې دوی ستاسو د وسيلې څخه ستاسو شرمونکي عکسونه يا معلومات ترلاسه کړي دي. کیدې شي دوی ګواښ وکړي چې دا معلومات به شريک کړي که چیرې دوی ته پيسي ورنکړل شي.

که دا ستاسو سره پیښ شوي وي، نو دا ستاسو غلطي نه ده، او مرسته او ملاتړ شتون لري. وارخطا کیږئ مه، پولیس به ستاسو قضیه جدي ونیسي. په ډاډ سره به ورسره معامله وکړي. ستاسو قضاوت به نه کیږي.

## که تاسو د جنسي ځورونې څخه متاثر یاست

پیسې مه ورکوئ. ځینې متاثره وګړو چې پیسې یې ورکړې دي نور یې په اړه نه اوري، نور یې ورکوي او د ډیرو پیسو لپاره پرې فشار راوړل کیږي. په ځینو مواردو کې، حتی کله چې پیسې ورکړل شي، مجرمان بیا هم ویډیوګانې یا انځورونه شریکوي. که تاسو هغه کس ته پیسې ورکړې وي، نو د خپل بانک سره اړیکه ونیسئ. کیدې شي دوی ستاسو لخوا اجازه ورکړل شوي تادیات بیرته ترلاسه نه کړي شي، مګر دوی به د انګلستان د قانون پلي کونکو سره د اوسني ګواښ باندې په ښه توګه پوهیدو کې مرسته وکړې شي.

له مجرمانو سره نورې خبرې مه کوئ، د هر ډول اړیکو او د مجرمانو د پروفایل د معلوماتو سکرین شاټونه واخلئ. د ثبوت په توګه یې وساتئ.

د پیښې په اړه پولیسو ته په 101 شمېرې زنګ وهلو سره راپور ورکړئ او موضوع د ټولنیزو رسنیو ویب پاڼې ته راپور کړئ. که تاسو د 18 کلونو څخه ډیر عمر لرئ، تاسو کولی شئ د NCII (غیر رضایتي شخصي انځور ناوړه ګټه اخیستنه) ته لاړ شئ او د وړیا وسیلې په کارولو سره یې راپور ورکړئ کوم چې د آنلاین شریکو موادو څخه د شخصي انځورونو کشف او لرې کولو کې مرسته کوي. که تاسو د 18 کلونو څخه کم عمر لرئ، تاسو تلې شئ Report Remove | Childline او په محرم ډول د ځان جنسي انځورونه او ویډیوګانې راپور کړئ او له انټرنیټ څخه یې لرې کړئ.

که تاسو د جنسي تيري ځخه متاثره یاست، نو تاسو  د لاندې ادارو څخه مرسته او مشوره ترلاسه کولی شئ:

**Rape Crisis Scotland [د  سکاټلینډ د جنسي تيري بحراني اداره] - 302 010 08088**
**Victim Support Scotland [د  سکاټلینډ  د  متاثره وګړو ملاتړ] - 9213 603 0345**
**د سکاټلینډ پولیس - 101 (غیر بیړنی) 999 (بیړنی)**

## د جنسي جرمونه راپور کول

NHS د ځان راجع کولو خدمت وړاندې کوي چې هغه خلکو ته، چې جبري جنسي تيري يا جنسي تيري يې تجربه کړي وي، مناسب ملاتړ او د روغتیا پاملرنې خدماتو ته د لاسرسي فرصت ورکوي. https://www.nhsinform.scot/sarcs

## فحشا

فحشا د پيسو يا کومې بلې ګټې په بدل کې د جنسي اړيکو د سوداګرۍ يا عمل په توګه ليدل کيږي.  هغه کسان چې په فحشا کې ښکيل دي او  هغه کسان چې د جنس پیرودلو په لټه کې دي کیدی شي د محاکمې وړ وي.
عامه غوښتنه:  په عامه ځایونو کې د فحشا لپاره غوښتنه کول یا ګرځيدل د قانون خلاف دي. دا غيرقانوني ده چې په موټر کې یا په عامه ځایونو کې پیدل د يو چا سره د جنسي اړيکو د بيې هڅه وکړئ.

## څه شی غيرقانوني دي؟

**د فاحشه خانې چلول:**  د هغه ځای چلول یا اداره کول غیرقانوني دي چیرې چې فحشا ترسره کیږي.
**دلالي او استحصال:**  دا یو جدي جرم دی چې د بل چا له فحشا څخه ګټه پورته کوي یا يو څوک د هغه د خوښې خلاف په دې کار مجبوروي.

## د انسانانو قاچاق

قاچاق وړونکي اکثره هغه کسان تعقيبوي چې په زيان منونکو حالاتو کې وي او د هغوی د کنټرول لپاره له ګواښونو، دروغو یا تاوتریخوالي څخه کار اخلي.  ډیر متاثره وګړي د غلطو ژمنو سره مختلفو ځايونو ته هڅول کيږي او بيا ترې ګټه پورته کيږي.  دا يو جدي جرم دی، او  هر  هغه څوک چې اغيزمن شوی وي د خونديتوب احساس کولو او ملاتړ ترلاسه کولو مستحق دی.

مهاجر کارمندان کيدی شي د کرنې، فابريکو، هوټلونو او رستورانتونو په څير صنعتونو له لارې استثمار شي.

نښې وګورئ:

- د بهرني اتباع وګړي اکثر يوځای ژوند کوي
- اوسيدونکي په منظم ډول بدليږي
- د ورځې او/يا شپې په غير معمول وختونو کې انتقاليږي
- د کارمندانو حرکتونه ځارل کيږي او کنټرول کيږي
- کيدې شي کارمندان د کار ورکوونکو، پوليسو يا نورو بهرنيو ادارو څخه ويره ولري.
- کارمندان هيڅ هم ورځ رخصتي نلري او نه رسمي رخصتي
- کارمندان د فزيکي ناوړه ګټه اخيستنې نښې نښانې لکه داغونه، پرې زخمونه او د درملنې غير طبي ستونزو نښې نښانې ښيې
- کارمندان د خوارځواکی، ډيهايډريشن، ستړيا او د شخصي حفظ الصحي د نشتوالي نښې نښانې ښيې

## جبري کار

**کورني غلامي** د عصري غلامۍ يوه بڼه ده. دا هغه حالت دی چې يو بالغ يا ماشوم اړ ايستل کيږي چې نوکر/غلام شي.

نښې وګورئ:

- سړی په ندرت سره له کوره بهر ته اجازه لري
- دوی د خوب لپاره مناسب ځای نلري، نو دوی په فرش يا صوفه کې خوب کوي
- دوی خراب خواړه لري
- دوی د رواني، فزيکي، جنسي تيري، ګواښونو يا نورو ظلمونو سره مخ دي.
- کيدې شي ماشوم په ښوونځي کې کمه حاضري ولري او د خپلو ملګرو سره د لوبې کولو لپاره وخت ونه لري.

# د کرکې/نفرت جرم

د کرکې جرم هغه جرم دی چې د یو شخص یا ملکیت په وړاندې ترسره کیږي او د ځینو خوندي ډلو په خلاف د غوسې یا کرکې له امله رامینځته کیږي.

تاسو به د کرکې له جرم متاثر وګڼل شئ، که چیرې تاسو دا فکر کوئ چې یو چا تاسو د لاندې موضوعاتو له امله په هدف کړی یاست:

- عمر/سن
- معلولیت
- نژاد (په شمول د رنګ، ملیت، قومي یا ملي اصل)
- مذهب یا عقیده
- جنسي تمایل
- د ټرانس جنس هویت
- جنسي ځانګړتیاوو کې بدلونونه (انټرجنس)

د کرکې جرم ډیری بڼې لري، په شمول د، مګر په دې محدود نه دي:

- قتل
- فزیکي برید
- ملکیت ته زیان، د بیلګې په توګه ګرافیتي، د اور لګولو غبرګ، ورانکاري
- ډارونکی یا ګواښونکی چلند، په شمول د فحش ژنګونو یا اشارو
- د سپکاوي لیکونه، خطونه، پوسټرونه
- لفظي ناوړه ګټه اخیستنه یا سپکاوی، په شمول د کنځلو
- آنلاین ځورونه او ناوړه ګټه اخیستنه
- ځورونه

### د تلیفون له لارې

**تاسو غیر عاجل پیښې پولیسو ته راپور کولی شئ:**

**بیړنی کیفیت:** که چیرې پیښه جریان لري یا سمدستي خطر رامینځته کوي نو 999 ته زنګ ووهئ

**غیر بیړني کیفیت:** د هغو پیښو راپور ورکولو لپاره چې بیړني نه وي، 101 ته زنګ ووهئ

### آنلائن

**د سکاټلینډ د پولیسو آنلاین فورمه:** د دې په کارولو سره راپور وسپارئ Hate Crime Reporting Form

### په شخصي توګه

سیمه ییز پولیس سټیشن ته ټګ.

### د دریمګړي ډلې د راپور ورکولو مرکزونه

د هغو کسانو لپاره چې کیدې شي پولیسو ته په مستقیم ډول راپور ورکولو کې نا آرامه احساس کړي، د دریمګړي ډلې راپور ورکولو مرکزونه یو بدیل وړاندې کوي. د سیمه ییز مرکزونو جامع لیست په لاندې ویب پاڼه کې شتون لري: Police Scotland website.

مخدره مواد

د مخدره موادو کارول ستاسو روغتیا ته جدي زیان رسولی شي او کیدې شي د مرګ لامل شي. دوه ډوله مخدره توکي شتون لري چې د قانون له مخې کنټرول کیږي: هغه چې تل غیرقانوني وي (د بیلګې په توګه، چرس، هیروین، ایکسټسي، کوکین، او نور) او هغه چې غیرقانوني دي پرته لدې چې تاسو د ډاکټر یا غاښونو ډاکټر څخه معتبر نسخه ولرئ (د بیلګې په توګه مورفین، میتادون، طبي چرس، او نور). د کنټرول شویو مخدره موادو درلودل یا بل چا ته د کنټرول شویو مخدره موادو رسوول غیرقانوني دي. که تاسو مخدره توکي انتقالوئ/رسوئ نو کیدې شي زندان ته واستول شئ. دا غیرقانوني ده چې پخپله د بنګو بوټي وکرئ یا د بل چا د بنګو بوټو ساتنه وکړئ. د کنټرول شویو مخدره موادو په جوړولو کې ښکیل کیدل غیرقانوني دي.

د پیسو کاچاق

د جرمي فعالیتونو له لارې د پیسو کارول یا ترلاسه کول غیرقانوني دي، او تاسو به محاکمه شئ. مهرباني وکړئ د محلي بانک سره راجستر شئ ترڅو ستاسو د شته پیسو ساتنه وکړئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې پیسې له یوې صادقې سرچینې څخه راځي، لکه ستاسو دنده.

**درغلی/دوکه**

درغلي هغه وخت رامنځته کیږي کله چې یو څوک بل کس یا سازمان ته دوکه ورکوي ترڅو په غیر عادلانه ډول پیسې، ملکیت یا یو څه ارزښتناکه ترلاسه کړي.

**د درغلیو ډولونه**

- **د هویت درغلي**: د کریډیټ ترلاسه کولو یا جرمونو ترسره کولو لپاره د بل چا د شخصي معلوماتو کارول
- **آنلاین درغلی**: جعلي بریښنالیکونه، متنونه، یا ویب پاڼې چې خلک د پیسو یا معلوماتو د سپارلو لپاره دوکه کوي
- **د ګټو درغلی**: د دولتي ګټو ترلاسه کولو لپاره دروغ ویل چې تاسو یې مستحق نه یاست
- **د بیمې درغلی**: د تادیاتو ترلاسه کولو لپاره غلط ادعاوې کول
- **د بانک درغلي**: د بل چا حساب ته د لاسرسي لپاره د غلا شوي کارت توضیحاتو یا غلط معلوماتو کارول
- **د سوداګرۍ درغلی**: لکه جعلي رسیدونه، د محاسبې درغلی، یا د شرکت د فنډونو ناوړه ګټه اخیستنه

**جزاګانې**

**جريمې**: له سلګونو څخه تر زرګونو پونډو پورې

**د ټولنې د بيرته ورکړې امرونه**: د نه معاوضه شوي کار او څارنې په ګډون

**د غلا شويو پيسو يا توکو بيرته ادائيګې**

**د بند سزاګانې**: ډيرې جدي يا تکراري درغلی کيدې شي په زندان کې د وخت لامل شي (په ځينو مواردو کې تر 10 کلونو يا ډيرو پورې)

سايبري جرمونه

مجرمان د انټرنيټ او معلوماتي ټکنالوژۍ څخه ګټه پورته کولی شي. دا تر ټولو ډېره مهمه ده چې د سايبري مجرمانو مخه ونيسو چې زمونږ حسابونه، معلومات او وسايل ترلاسه نه کړي. پدې کې آنلاين بانکداري او پيرود، بريښناليک او ټولنيزو رسنې شامل دي. دوکې او درغلۍ هغه جرمونه دي چې پکې د شخصي ګټې لپاره فريب کارول کيږي. دا معمولا د پيسو يا شخصي معلوماتو ترلاسه کولو لپاره ترسره کيږي.

د مختلفو درغليو په انګيزو او نښو باندې پوهيدو سره، تاسو خپل شخصي معلومات د هغو درغلۍ کونکو څخه خوندي ساتلې شئ چې اکثر د نړيوالو پولو اخوا کار کوي.

د دې درغليو تر شا مجرمان تبعيض نه کوي؛ دوی به هر څوک په نښه کړي او د اغيزو يا پايلو لپاره به په بشپړه توګه بې پروايي ولري.

په ياد ولرئ، که يو څه سم نه ښکاري، نو شايد هغه به هم داسې وي.

**هر ډول دوکه يا درغلۍ بايد پوليسو ته د 101 تليفون له لارې راپور کړې شي.**

## جعلي بريښناليکونه

جعلي بريښناليکونه د دې لپاره مطرح کيږي چې تاسو په يو بې باوره لينک کليک وکړئ، پيسې شريکې کړئ يا شخصي معلومات شريک کړئ.

دوی کيدې شي بيرنې وبريښي او ګواښونه ولري. تل د دوی د اړيکو معلومات په دقت سره وګورئ او د نامعلومو تليفوني شميرو او بريښناليکونو لپاره يې وګورئ. د هغو خلکو په استول شوي لينکونو باندې کليک مه کوئ چې تاسو يې نه پيژنئ.

د پام وړ نښې عبارت دي له:

- په بريښناليک کې ستاسو نوم نه کارول کيږي، ځکه چې دوی په حقيقت کې معلومات نه لري چې تاسو څوک ياست.
- د املا او ګرامر غلطياني
- هغه انځورونه يا ډيزاين چې آشنا ښکاري مګر سم احساس نلري

- یو غیر معمولي د بریښنالیک پته چې ورته ښکاري مګر په سمه توګه د رسمي شرکت د بریښنالیک پتې سره سمون نه خوري
- هغوی وهڅوئ چې په یوه نامعلوم لینک کلیک وکړي. که تاسو ډاډه نه یاست، نو لینک مه کلیک کوئ او مستقیم د سازمان ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

تاسو هر ډول شکمن بریښنالیکونه دې ته استولي شئ report@phishing.gov.uk. د ملي سایبر امنیت مرکز - NCSC.GOV.UK به یې بیا پلټنه وکړي.

## د څارویو اړوند قوانین

### د سپو (د څارویو ساتنه) (تعدیل) (سکاټلینډ) قانون 2021

دا قانون په کرنیزو ځمکو کې د څارویو ساتنه پیاوړې کوي:

- دا قانون، چې د کال 2021 د نومبر په 5مه نیټه نافذ شو، د سپو لپاره د فارم څارویو ته زیان رسول یا ډارول غیرقانوني کوي.
- قانون "څاروي" په پراخه کچه تعریفوي، په شمول د څارویو لکه پسونه، غواګانې، وزې، اسونه، خنزیر، الپاکا، هوسۍ، شترمرغ، او د ښکار مختلف مرغان.
- د دې قانون له مخې، که چیرې یو سپی دا څاروي تعقیب کړي یا ځوروي، چې د فشار له امله د حمل سقط په څیر ستونزې رامینځته کړي، دا جرم ګڼل کیږي.
- د دې ډول کړنو لپاره جریمې جدي دي، چې جریمې یې تر 40000 پونډو پورې یا تر یو کال پورې په بند محکومیږي. سربیره پردې، مجرمان کولی شي د سپو د درلودلو یا کرنیزو ځمکو ته د لاسرسي محدودیتونو سره مخ شي.
- پولیس اوس واک لري چې د شواهدو راټولولو لپاره نه یوازې د پیښې له ځای څخه، بلکې د فارم له هر ځای څخه سپي ونیسي.
- دوی د سپو د وترنري معایناتو او ازموینې تنظیم هم کولی شي.

په سکاټلینډ کې دا غیرقانوني ده چې د سپي ځیني نسلونه، په شمول د XL Bully سپي، په عامه توګه پرته له خولۍ او پټۍ څخه ولري. د دې ډول سپي پلورل، چاته ورکول، نسل کول، پرېښودل یا اعلان کول هم د قانون خلاف دي.

د کال 2024 د جولای له 31مې راهیسي، د XL Bully سپي درلودل غیرقانوني شوي دي پرته لدې چې تاسو ځانګړی جواز ولرئ، کوم چې یوازې هغه وخت ترلاسه کیدی شي که تاسو د نیټې څخه مخکې غوښتنه کړې وي. له هغې نیټې وروسته، د داسې شپې د ملکیت ترلاسه کولو یوازینی لار د محکمې حکم دی.

**د XL Bully سپي د درلودلو پر مهال اړتیاوې**

- که تاسو د معافیت معتبر سند لرئ (یا مو لرې وي)، تاسو باید:
- سپی په راجستر شوي پټه کې وساتئ (په کال کې تر 30 ورځو پورې لنډمهاله بل ځاي ته بوتلل)
- په هر عامه ځای کې، په شمول د موټرو دننه، خوله او سیسه بند یې وتړئ
- په کور کې مایکروچپ، بې طرفه، او خوندي ساتنه
- د دریمګړې ډلې د عامه مسؤلیت بیمه ساتل
- د غوښتنې په صورت کې، خپل سند، بیمه، او د مایکروچپ لوستلو اجازه په 5 ورځو کې چمتو کړئ.
- د قواعدو اطاعت نه کولو لپاره جریمې: تر 5000 پونډو پورې جریمه، تر 6 میاشتو پورې بند، یا دواړه

پوښتنې: xlbullydogenquiries@gov.scot

# د قانون چارواکي

## د پولیسو افسر

**اصلي دنده**

د خلکو د خوندیتوب لپاره، د جرمونو مخنیوي او پلټنه کول.

**دوی د چا لپاره کار کوي؟**

سیمه ییز یا ملي پولیس (د مثال په توګه د سکاټلینډ پولیس)

**د کډوالی سره به معامله وکړي؟**

نه - د دوی دنده نه ده. پولیس ستاسو د کډوالۍ حالت کتلی شي، خو دا کار به په منظم ډول ونه کړي.

**یونیفورم/دریشي**

تور یونیفورم د ژیړ جاکټونو سره (د سکاټلینډ پولیس )، د پولیسو بیج.

**آیا تاسو له دوی سره په خوندي ډول خبرې کولی شئ؟**

هو. تاسو د جرم، خوندیتوب، یا بیړني حالتونو په اړه له ویرې پرته له پولیسو سره خبرې کولی شئ.

**تاسو به دوی سره کله لیدنه کوئ؟**

د جرمونو، بیړنیو حالاتو (لکه 999)، د خوندیتوب اندیښنې، کورني تاوتریخوالی، د کرکې جرم، او داسې نورو راپور ورکولو لپاره

**ایا دوی اجازه لري چې خلک وباسي؟**

نه. پولیس خروج نه اجرا کوي او نه هم د کډوالی حالت په اړه پریکړه کوي

**ایا دوی ستاسو کور ته ننوتلې شي؟**

یوازې د اجازې، د خوندیتوب په اړه اندیښنو یا د محکمې د حکم سره.

د کډوالۍ افسر

**اصلي دنده**

د کډوالۍ قوانین پلي کول (د بیلګې په توګه ویزې، د پناه غوښتنې ادعاوې، خروج)

**دوی د چا لپاره کار کوي؟**

د انګلستان حکومت - د کورنیو چارو وزارت (د کډوالۍ تطبیق)

**د کډوالۍ سره به معامله وکړي؟**

هو - دا د دوی دنده ده. کیدې شي دوی د کډوالۍ اسناد وګوري یا خروج ترسره کړي.

**یونیفورم/دریشي**

ملکي جامې یا تور جاکټونه چې "د کډوالۍ پلي کول" پرې لیکل شوي وي.

**آیا تاسو له دوی سره په خوندي ډول خبرې کولی شئ؟**

که غوښتنه وشي، تاسو له دوی سره د قانوني ملاتړ په حضور خبرې کولی شئ، مګر تاسو اړ نه یاست چې پرته له مشورې خبرې وکړئ.

**تاسو به دوی سره کله لیدنه کوئ؟**

د ویزې په چکونو، د پناه غوښتنې مرکې، د کورنیو چارو وزارت په لیدنو، یا په سرحدي چکونو کې.

**ایا دوی اجازه لري چې خلک وباسي؟**

هو. یوازې د کډوالۍ افسران خروج پیل یا ترسره کولی شي.

**ایا دوی ستاسو کور ته ننوتلی شي؟**

یوازې د تضمین/وارنټ سره یا که ځانګړي قانوني واکونه پلي شي.

## اوس مرستې ته اړتیا لرئ؟

**که تاسو یا ستاسو کوم بل پېژندوي وګړي په خطر کې وي یا بیړنۍ مرستې ته اړتیا ولري، نو 999 ته زنګ ووهئ.**

**د غیر بیړنیو حالاتو لپاره، د  سکاټلینډ پولیسو ته په 101 زنګ ووهئ یا لاندې لیست شوي ملاتړي سازمانونو سره اړیکه ونیسئ:**

**Victim Support Scotland [د سکاټلینډ د متاثره وګړو ملاتړ]**
0800 160 1985
www.victimsupport.scot

**Samaritans [سماریټانز]**
116 123
www.samaritans.org

**Scottish Women's Aid [د سکاټلینډي ښځو مرسته]**
0800 027 1234
www.womensaid.scot

**Childline [د ماشومانو کرښه]**
0800 1111
www.childline.org.uk

**Trafficking Awareness Raising Alliance (TARA) [د قاچاق د پوهاوي د لوړولو اتحاد (TARA)]**
**0141 276 7724 (7/24)**
www.communitysafetyglasgow.org.uk

**Migrant Help [د مهاجرت ملاتړ]**
ویب پاڼه: www.migranthelpuk.org
د ملاتړ کرښه: (7/24) **0808 8010 503**
د عصري غلامۍ او انساني قاچاق متاثره وګړو ملاتړ کوي، مشوره، خوندي کور، او د کډوالۍ او بیا رغونې سره مرسته ورته وړاندې کوي.

**National Ugly Mugs (NUM) [ملي بدصورت پیالې (نم)]**
ویب پاڼه: www.uglymugs.org
د خطرناکو اشخاصو په اړه د اخطارونو شریکولو او د خوندیتوب وسیلو، راپور ورکولو سیستمونو، او احساساتي ملاتړ ته د لاسرسي چمتو کولو سره د جنسي کارمندانو ملاتړ کوي.

**Rape Crisis Scotland [ سکاټلینډ د جنسي تیري بحران]**

ویب پاڼه: www.rapecrisisscotland.org.uk

کمکی کرښه: 02 03 01 08088 (هره ورځ، د ماښام 6 بجو څخه تر شپې 12 بجو پورې)

د جنسي تاوتریخوالي څخه اغیزمن شوي هر چا ته ملاتړ وړاندې کوي، په شمول د هغو کسانو چې د جنسي استحصال تجربه یې کړې وي.

**Scottish Women's Aid [د سکاټلینډي ښځو مرسته]**

ویب پاڼه: www.womensaid.scot

د هغو ښځو، ماشومانو او ځوانانو ملاتړ کوي چې د کورني تاوتریخوالي سره مخ دي، په شمول د هغو کسانو چې په فحشا یا قاچاق کې ښکیل دي.

**Guardianship Scotland [د سکاټلینډ د سرپرستي خدمت]**

ویب پاڼه: www.aberlour.org.uk/get-help/guardianship-scotland

**د پور مشوره**

ویب پاڼه: www.stepchange.org

کمکی کرښه: 111 138 0800

دوشنبې نه تر جمعې پورې د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 8 بجو پورې او شنبه له سهار 9 بجو څخه تر ماسپښین 2 بجو پورې

**د سکاټلینډ LGBT+ کمکي کرښه**

ویب پاڼه: www.lgbthealth.org.uk

بریښنالیک: helpline@lgbthealth.org.uk

کمکی کرښه: 7000 464 08000

سې شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه (د ماسپښین له 12 بجو څخه تر شپې 9 بجو پورې)، یکشنبه (د ماسپښین له 1 بجو څخه تر ماښام 6 بجو پورې)

**Money Advice Scotland [د سکاټلینډ د پیسو مشوره]**

ویب پاڼه: www.moneyadvicescotland.org.uk

بریښنالیک: info@moneyadvicescotland.org.uk

**Sextortion** [جنسي ځورونه] (د دریمګړي ډلي راپور ورکول)

ويب پاڼه: www.crimestoppers-uk.org

www.crimestoppers-uk.org/fearless

کمکی کرښه: **0800 555 111**

**د دریمګړو ډلو د راپور ورکولو سایټونه**

هغه متاثره وګړي يا شاهدان چې د پولیسو سره په مستقیم ډول اړیکه نیولو کې آرام نه احساسوي هغوی کولی شي چې د دریمګړي ډلي راپور کولو سایټ وکاروي، کوم چې افرادو ته اجازه ورکوي چې د یوې خپلواکې اداري له لارې د کرکې د جرمونو یا پیښنو راپور ورکړي. نور معلومات او د تایید شویو دریمګړي ډلي راپور ورکولو مرکزونو لیست د سکاټلینډ د پولیسو ويب پاڼه کې موندې شئ: www.scotland.police.uk

**د جرم راپور کول په 100٪ بې نومه ډول**

کرایم سټاپرز یوه خپلواکه خیریه اداره ده چې تاسو ته اجازه درکوي د جرم په اړه معلومات شریک کړئ پرته لدې چې څوک ستاسو پیژندنه وکړي. دوی ستاسو IP پته، د تلیفون شمیره یا د اړیکو نور جزئیات نشي تعقیبولی.

**تاسو آنلاین راپور کولی شئ په [www.crimestoppers-uk.org](http://www.crimestoppers-uk.org) یا 111 555 0800 ته زنګ وهلو سره. دا خیریه موسسه د څو ژبو خدمت هم وړاندې کوي، پدې معنی چې تاسو د تلیفون له لارې یا آنلاین د 140 څخه زیاتو ژبو کې راپور کولی شئ ، د ژباړې سره.**

ځوانان د خیریه موسسې د ځوانانو خدماتو له لارې هم مشوره ترلاسه کولی شي او په مستعار ډول راپور کولی شي: www.fearless.org یا **111 555 0800** ته زنګ وهلو سره.

**#MakeaDifference**

## د سکاټلینډ د قانون په اړه د نورو معلوماتو لپاره مراجعه وکړئ:

## [www.nclanarkshire.ac.uk/scotslaw](http://www.nclanarkshire.ac.uk/scotslaw)

**قانوني/حقوقي ردونکی**

په دې کتابچه کې شامل معلومات یوازې د عمومي لاربنود په توګه کارول کیږي او دا د قانون مفصل بیان نه دی. سکاټلینډ خپل خپلواک قانوني سیستم لري او کیدې شي چې په سکاټلینډ کې قوانین ډیر وختونه د انګلستان د نورو برخو څخه توپیر ولري. که تاسو قانوني مشورې ته اړتیا لرئ، نو تاسو باید تل په سکاټلینډ کې د وکیل یا د اتباعو د مشورې دفتر سره اړیکه ونیسئ.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ: په دې خپرونه کې شامل معلومات د چاپ پر مهال صحیح/سم وو.

© نیو کالج لانارکشایر 2026

د خیریې د ثبت شمیره: SC021206